## مطبوعاتي اعلاميه

# بې غيرته مسلمان چارواکي دا ثابتوي، چې يوازې خلافت اشغال شوی کشمېر او مسجدالاقصی ازادولی شي

کله چې د عربي اماراتو چارواکو قصاب مودي ته جايزه ورکړه، نو مسلمانان د دوی پر دغه کړنه سخت غوسه شول. د پاکستان د بهرنيو چارو وزير د ۲۰۱۹م کال د اګست پر ۲۵مه وويل: «نړيوالې اړيکې تر ديني ارزښتونو مهمې دي.» تاسو يې پرېږدئ، چې شاه محمود قريشي د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر دغه حديث غور وکړي:

**«وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَاليَومِ الآخِرِ ، فَلْيَقُلْ خَيْراً أَوْ لِيَصْمُتْ»**

(البخاري او مسلم)

***ژباړه:** هغه څوک چې پر الله سبحانه و تعالی او د اخرت په ورځ ايمان لري، نو بايد ښې خبرې وکړي او يا هم چوپ پاتې شي.*

د مسلمانانو چارواکي په حقيقت کې له امت سره ډېر توپير لري. امت د اشغال شوي کشمير، فلسطين، برما (ميانمار) او چين له مظلومو مسلمانانو سره په خواخوږۍ کې سترې او ستومانه دی. له شک پرته چې د امت نړۍ‌ليد په ستر دين کې نغښتی، هغه دين چې چارواکو له امت څخه د بېلولو لپاره ډېرې هڅې وکړې؛ خو دوی بيا هم ټينګې منګولې پرې خښې کړې دي. مسلمان چارواکي تل د خپلو خلکو د ځپلو هڅه کوي، څو د مسلمانانو له دښمنانو څخه خپلې اقتصادي ګټې خوندي کړي؛ هغه که امريکا ده يا هند، يا يهودي اشغالگر دولت او يا هم چين دی. په داسې حال کې چې دغه ډارن چارواکي يوازې شخصي شتمنۍ خوندي کوي؛ هم يې د اسلام له دښمنانو څخه اخلي او هم يې د امت پر پراخو سرچينو ولکه ټينګه کړې. په دې توګه غواړي، چې امت تر ظالم کپيټلېسټ اقتصادي نظام لاندې له منځه يوسي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** پر ربښتيني دين (اسلام) د منګولو ټينګول د الله سبحانه وتعالی د رضايت لامل کېږي او په دې سره موږ ته له هغو چارواکو څخه د خلاصون توفيق راکوي، چې پر موږ د واکمنۍ وړتيا نه لري. موږ له پاکستاني چارواکو څخه غواړو، چې اشغال شوی کشمير د خپلو وسله والو زمريانو په لېږلو سره بېرته ازاد کړي؛ خو زموږ د غوښتنې له ځواب څخه ښکاري چې دوی په پوره توګه بې واکه دي او لاسونه او پښې يې تړل شوي دي. دا چارواکي پرله پسې دفاعي ويناوې خپروي او هره وينا يې د کمزورۍ او بې وسه درېځ ښکارندويي کوي.

دا زموږ دنده ده، چې د هر هغه څه د پلي کولو لپاره راپورته شو، چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي دي. هغه مهال به مو بیا چارواکي له موږ څخه وي، پر موږ به زړه سوی کوي، وربانديې ګران به وو او داسې به مو رهبري کوي، لکه څنګه يې چې وړ يو. په دې توګه به دوی زموږ دعا لاسته راوړي.

د نبوت پر تګلاره د هغه خلافت د بیا تاسیس لپاره هڅه وکړئ، چې د امت ډال بلل کېږي او خپل وسلوال ځواکونه د تېر په څېر د مسلمانانو د دفاع لپاره ولېږي. د خلافت د تاسیس لپاره راپورته شئ، ترڅو زموږ نسل د رسول الله صلي الله علیه وسلم د دغه زیري شاهد شي؛ یعنې د هند غزوه، د روم فتحه او د یهودي دولت له منځه وړل. د خلافت په بیا تاسیس سره به زموږ مخلص بچیان د دښمن له لیکو څخه راوګرځول شي او د فتحې او شهادت په موخه به رهبري شي. مسلم له ابو هریره «رض» څخه روایت کوي، چې پیغمبر صل الله علیه وسلم فرمایي:

**«إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ، يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ، وَيُتَّقَى بِهِ»**

***ژباړه:*** *امام (خلیفه) هغه ډال دی، چې تر شا یې جګړه کوئ او پرې ساتل کېږئ.*

**حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۰هـ.ق، کال د ذولحجې ۲۵مه**

**۲۰۱۹م کال، د اګېسټ ۲۶مه**

**د صدور ګڼه: ۷۸/۱۴۴۰**